(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه :

شرم دی، په داسې يو اقليم کې ژوند کوم، چې خلک مينه ګناه بولي. په چاپېريال کې مې تول، لکه غوښن ماشينونه، هرې خواته ځغلي. هرڅوک يو څه ګټي څو ورځې ژوند کوي او بيا مري. نيکمرغه کسان خپلو پاتې شونو (اولادې) ته څه پرېږدي، کور، مال او يا نور څه..

ګلونه راشنه کېږي، غوړېږي او بېرته رژېږي، خاورې کېږي او تول له هغو سره مينه لري، ځکه ګلونه د رنګ، عطر او ښکلا هستي په ميراث پرېږدي. خو موږ، راشنه کېږو لويېږو، زړېږو او مرو، زموږ نه رنګ شته، نه عطر او نه ښکلا، که يو له بل سره مينه وکړو، اې واويلا، ګناه- ګناه- ګناه...

تول کرکه پېژنو، آن له هغو سره هم کرکه پېژنو چې مينه کوي

ليونۍ !

لاس دې راکړه، پوهېږم سترې يې، تر ګامونو لاندې مو ځای ځای واوره شته يو نيم ځای ځمکه وچه ده، هلته څوک نه شته، يوه ډبره، دواورې او بوپريولې ده راځه هلته به لږ دمه وکړو.

ګوره ليونۍ.

موږ ولې له بنيادمانو ځخه تښتو؟ ته خو شرمېږې چې د خلکو ترمخې وژاړې او دلته پرهمدې ډبرې، که څوک نه وي، کينې او زړه تشوې، ژاړې، ښې ډېرې او ښکې بهوې شرم دی، ته په داسې اقليم کې ژوند کوې، چې ژړا هم ګناه ده، که وژاړې خلک در

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې بدګومانه کېږي، که وژاړې خلک ګومان کوي چې هرو مرو له چا سره مینه لرې او مینهِ؛ دا خو لویه ګناه ده.
راځه دلته خپل سر زما پر ولي کېږده او وژاړه، ښايې دا ډېره او زه ستا لپاره دلته يو ، زه پرتا ډېر مهربان یم، ځکه هیڅ کله ستا د ژړا مخه نه نیسم، څومره چې زړه دې غواړي اوښکې تويې کړه، زه به همدلته یم او درته ګورم به
وطن د غوښنو ما شینونو لویه کار خانه ده، وطن د اوږدې وژنې له تبې څخه راوتلی دی او پرتې( هزیان) وايي، وطن زما او ستا لپاره هیڅ نه لري.
لیونۍ !ته خو ژاړې !
خو زه ولې دلته راغلی یم؟زه هم دویلو لپاره یو څه لرم. زه هم له بنیادمانو څخه تښتم او ځان پټوم. یوازې غواړم له تاسره اوسم. ته خو پوهیږې چې زه شاعریم. دلته چې ته ژاړې، له ماسره زما د شعرونو کتابچه ده، زه منتظریم چې ستا زړه تش شي، ستا اوښکې خلاصې شي، بیا نو ماته وګورې، یوڅه موسکۍ شې بیا به نو زه خپله کتابچه پرانیزم او خپل ټول شعرونه به درته ولولم. دغوښنو ماشینونو په دې لویه کار خانه کې زما د شعرونو اوریدونکې او مخا طبه خو یوازې او یوازې ته یې.
ته پوهیږې، چې زه په خپلو شعرونو کې له چا سره خبرې کوم، او له چا سره مینه کوم؟ خیر، که ګناه هم ده خو په شعرونو کې رواده....

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرم دی په داسې يو اقليم کې ژوند کوو ، چې په شعر کې مينه لکه د شعر د شرابو هسې، خيالي او وهمي ده، هيڅ څوک په رېښتيا مينه نه کوي، ځکه دا خو ګناه ده.

ګوره، زه او ته رټلي يو ، ځکه چې له يو بل سره مينه لرو ، خوله ټولو څخه څومره ښکلی کسات اخلو ، دلته له ټولو لرې، ته ژاړې او زه خپل شعرونه لولم.

ليونۍ ! يوه کيسه واوره !

زموږ د کلي په مخامخ غره کې دوه لوېې ډبرينې څېرې دي يوه څېره لکه يوه پېغله او دوهم يې يو زلمی دی، کليوال وايي، په پخوا زمانو کې دوه مينان وو، چې د دواړو د کورنيو ترمنځ بدي وه. کله چې کليوال او کورنۍ خبر شول چې دوی دواړه يو له بل سره مينه لري، نو د هغوی په مړينې پسې يې را واخيستل. له مينانو څخه، چې لاره ورکه شوه غره ته وتښتيدل او هلته يې خدای(ج) ته سوال وکړ چې دواړه په تيږو بدل کړي، لوی خدای(ج) يې سوال و مانه او له زرګونو کلونو را په دې خوا دوی همدلته سره ناست دي.

زه پوهېږم چې دا دواړه ژوندي دي هسې موږ، دغوښو ماشينونو، ته تيږې ښکاري او که نه خدای خبر دواړه به څومره يو د بل له غېږو څخه خوند اخلي....

نو زه او ته هم همداسې يو، زه نه وايم چې مه ژاړه او ته هم پرېږده، چې زه خپل شعرونه درته ولولم خو ناهيلې کيږه مه، که هيڅ نه وو، زه او ته به هم له خدايه وغواړو چې پرهمدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره ناست همداسې تیرېږې شو او د بنیادمانو له سترګو ورک شو.

نړۍ دې دوه برخې شي، نیم دې همداسې لکه غوښن ماشینونه زیږي، لوییږي او مري دې، خو څه دې ستا ژړا او زما شعرونو ته غوږ ونیسي خدای(ج) لوی دی ګوندې دوی هم په مینانو کې شمارشي.

لیونۍ !

موسکا دې پېژنم، ډېره ښکلې ده، لکه چې نورې او ښکې دې په سترګو کې نه شته؟ اوس نو زما وار دی.

اې ! ته !

همدا ته چې داکرښې لولې، ته به هم په مینانو کې شمارشې اوس نو زما وار دی، غوږ شه چې زه در ته خپل شعرونه ولولم.

لیونۍ !

ته دې خپل سر زما پر ولې کیږده او غوږ شه !

یـاهو

عبدالغفور لېوال

۱۸- مرغومې ۱۳۸۴ لمریز کابل

